دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمان - ذات - ته محبوبې دي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمان - ذات - ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ»، یعنې پاکي عظیم الله لره ده، پاکي او ستاینه الله لره ده».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو کلمو په اړه خبر ورکوي چې یو سړی یې له سختۍ پرته او په هر حالت کې ویلی شي او دا چې په تله کې یې اجر ډیر لوی دی، او دا چې زمونږ رب؛ رحمان ذات یې خوښوي. سبحان الله العظیم، سبحان الله وبحمده؛ ځکه چې پدې دواړو کلمو کې الله تعالی په لویۍ او کمال سره یاد شوی، او له نقص څخه یې پکې پاکي بیان شوي ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5507